مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۳/۳۱

داکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (شپږ وشتمه برخه)

### ډاکټر فاروق اعتمادي

د غلام حیدر اعتمادي زوی په ۱۹۱۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۶ز کال کې د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ؛ په ۱۹۳۸ز کال کې فرانسي ته لاړ او په ۱۹۴۴ز کال کې ئـې په فرانسي کې خپله دکتورا په سیاسي علومو کې ترلاسه کړه. په ۱۹۴۶ز کال کې افغانستان ته راستون سو. د کابل په پوهنتون کې د تأریخ استاد. په ۱۹۴۹ز کال کې د لنډي مودې لپاره د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس. د ۱۹۵۰ز لسیزې په لومړیو کې له عبدالحی عزیز، ببرک کارمل او نورو سره زنداني سو. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو رئیس. له مېرمن صالحې سره ئـې وادۀ کړی او یوه لور لري. په کابل کې ژوند کوي او د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې تدریس ته دوام ورکوي، ۱۹۸۶ز کال.

### محمد امین اعتمادي

په ۱۹۲۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. مور ئـې د نادر شاه خور وه. د کابل د استقلال له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۹ز کال کې ئـې خپل لیسانس د کابل له پوهنتون څخه په حقوقو کې  تر لاسه کړ. په ۱۹۴۹ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د نړۍ والو اړیکو د څانګې غړی. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۱ز کال پورې په ملګرو ملتونو کې د افغان دائمي استازیتوب اتشه.  له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ز کال پورې په روم کې د افغانستان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول د څانګې د مشر مرستیال. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پورې په پراګ کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۶۰تر ۱۹۶۴ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول د څانګې سرپرست مشر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په ډیلي کې د افغان سفارت قنسل. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت د پروتوکول د څانګې مشر. په ۱۹۷۰ز کال کې د پولنډ سفیر. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د یوګو سلاویا سفیر. له مېرمن صفیې طرزي سره ئـې وادۀ کړی وو خو وروسته ئـې له صالحې فاروق سراج سره وادۀ وکړ صالحه فاروق سراج : د مور له خوا په قوم د سلیمان خیلو د یحیی خیلو له څانګې څخه دم او درې بچیان لري. له ۱۹۸۰ز کال راهیسې په جرمني کې ژوند کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## محمد همایون اعتمادي

خپلي زده کړې ئـي د ښکليو هنرونو په ليسي کي بشپړې کړي دي. د هرات د بهزاد د هنري سبک هنرپال دئ او د همدې سبک هنري ـلرليډ ـئي په خپلو ميناتوريو باندې ورزيات کړی دئ او همدا شان د رنګونو په کارولو کي فوق العاده او ځانګړی استعداد لري. همايون د خپل هنري کار په وياړ کي ګڼ شمېـر جوايز تر لاسه کړي دي او هنري کارونه ئـي په افغانستان کي دننه او له افغانستانه دباندې په بهر کي په پراخه کچه ننداري ته وړاندې سوي دي. دی د شاهي کتابتون عمومي مدير او د افغان سرې مياشتي د ټولني افتخاري مرستيال رئيس وو. (د ن.م. کهګدای له مرينې وروسته) په ۱۹۷۲ز کال کي د اعليحضرت محمد ظاهر سکرتر. له ۱۹۷۸ز کال راهيسي متقاعد او په کابل کي ژوند کوي.

## نور احمد اعتمادي

د غلام احمد زوی او د اعتماد الدوله سردار عبدالقدوس لمسی په ۱۹۲۱ز کال کي په کندهار کي زېږېدلی دئ. د استقلال له ليسي فارغ سوی دئ. د معارف په وزارت کي رسمي مأمور. په ۱۹۴۶ز کال کي د باندنيو چارو د وزارت رسمي مأمور. په ۱۹۴۷ز کال کي په لندن کي د افغانستان د سفارت لومړی سکرتر. په واشنګټن ډي. سي. کي د سفير نعيم تر لاس لاندې لومړی سکرتر. په ۱۹۶۲ز کال کي د باندنيو چارو په وزارت کي سکرتر جنرال؛ د پروتوکول د مشر مرستيال؛ د اقتصادي اړيکو مدير؛ د سياسي چارو عمومي مدير. د اساسي قانون د تسويد د کميټي غړی. د ۱۹۶۴ز کال د لويې جرګي غړی. د اساسي قانون ملاتړ ئـي وکړ خو د قانون په ۲۴ مادې باندې ئـي خپل قيد او شرط درلود چي د پادشاه نـېږدې خپلوان ئـي له وزير کېدلو څخه منع کول. په ۱۹۶۴ز کال کي په کراچۍ کي د افغان سفارت سفير. په ۱۹۶۶ز کال کي لومړی مرستيال صدراعظم، او په ۱۹۶۵ز کال کي د باندنيو چارو وزير. د ملګرو ملتونو د پينځمې او ديارلسمې عمومي اسامبلې پلاوی. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۱ز کال پوري صدراعظم او د باندنيو چارو وزير. په ۱۹۶۷ز کال کي ئـي د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ناپيـيلو هېوادونو په غونډه کي ګډون وکړ. په ۱۹۷۰ز کال کي ئـي په زامبيا کي د لوساکا په کنفرانس کي ګډون وکړ. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پوري د روم سفير؛ په ۱۹۷۳ز کال کي د مسکو سفير؛ په ۱۹۷۶ز کال کي د اسلام آباد سفير. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتي په ۲۴ نـېټي ولسمشر داؤود د مشورې لپاره بلنه ورته وکړه. د غوايي له پاځون وروسته ونيول سو او ويل کېږي چي د ۱۹۷۹ز کال د آګست د مياشتي په لسمې نـېټي په مخفي ډول اعدام سو. وادۀ ئـي کړی او درې زامن لري.

## صالحه امين اعتمادي

(د المپيک د کميټي د رئيس) فاروق سراج لور، په ۱۹۳۵ز کال کي په کابل کي زېږېدلي ده. د ملالی په ښوونځي کي ئـي زده کړې کړي دي او بيا ئـي د ښوونکي په توګه کار کړی دئ. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پوري د ښځو د فرهنګي ټولني غړې. د مېـرمن د مجلې مديره. مېـړۀ ئـي امين اعتمادي د باندنيو چارو د وزارت د پروتوکول مشر او د بلګراد او وارسا سفير وو. مېـرمن صالحه په ۱۹۷۲ز کال کي وفات سوه او د ــ ځانګړي امتياز په توګه ــ د شاۀ دو شمشيرې د زيارت په انګړ کي خاورو ته وسپارل سوه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

## صالحه فاروق اعتمادي

د میر امام الدین لور په ۱۹۲۸ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده( صالحه د سید له کورنۍ ښځه ده او د سید هاشم میرزاد خور ده). د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي ښځه ئـې لیسانس تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۴۳ز کال کې د ملالی د لیسې ښوونکې. په ۱۹۶۵ز کال کې د مېرمنو ټولنې رئیسه او د مېرمن د مجلې محرره. له ۱۹۶۲ز کال را په دېخوا د ښځو د پرمختګ په هره چاره کې فعاله ګډونواله او د افغان میرمنو او د نورو هېوادونو د میرمنو ترمنځ اړیکو کې فعال کار کړی دئ. له فرانسې، شوروي اتحاد او چین ښځه ئـې لیدنه کړې ده. په ۱۹۶۰ز کال کې د ملالی د لیسې مدیره. د فاروق اعتمادي مېرمن. له ۱۹۷۴ز راهیسې متقاعده او په کابل کې ژوند کوي.

## سرور ګویا اعتمادي

د جمعه خان اعتمادي زوی او د سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله لمسی په ۱۹۰۹ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې لري. د معارف د وزارت سلاکار. د دري ژبې د ادبیاتو د تاریخ عالم او ببیلیو ګرافر. د Who is Who Of Afghanistan یا د افغانستان د بایوګرافیک قاموس لپاره د شجرو د جدولونو په جوړولو کې چې لومړی مسودې ئـې په همدې قاموس کې چاپ سوې مرسته وکړه. د هرات د تیموریانو په باب ئـې اسناد چاپ کړل. د ایران له ادبي کړیو سره ئـې د افغانستان په اړیکو کې مهمه ونده ولوبوله. په ۱۹۶۸ز کال کې وفات سوی دئ.

## توریـالی اعتمادي

د غلام حیدر خان زوی او د سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله لمسی په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ( مور ئـې د امیر حبیب الله خان لور وه). د استقلال له لیسې فارغ سوی دئ. خپل لیسانس ئـې په بایولوژي او کیمیا کې د کابل له پوهنتون ښځه تر لاسه کړی دئ. خپله ماستري ئـې په فیزیالوژي کې د امریکا د متحده ایالاتو د اندیانا له پوهنتون ښځه تر لاسه کړې ده. په ۱۹۴۶ز کال کې د کابل د شپـې ښوونځیو مدیر. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د یونسکو لپاره د افغان ملي کمیسیون سکرتر. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د ساینس، کرنې او د انجنیرۍ د پوهنځیو رئـیس. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په واشنګټن ډي. سي. کې د افغان کلتوري دفتر رئـیس. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د معارف په وزارت کې د ثانوي تدریساتو د ریاست رئـیس. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د تعلیم او تربیې د انستیتیوت رئـیس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د کابل پوهنتون رئـیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۰ز کال پورې په بن کې د افغان سفارت کلتوري قنـسل. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۰ز کال پورې ئـې د یونسکو په کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب وکړ. د ۱۹۷۱ز کال د سپتمبر په اتمې نېټې د باندنیو چارو په وزارت کې «خصوصي سلاکار» [1]. د ولسمشر داؤود پر مهال ئـې کومه رسمي دنده ترهغو نـۀ درلوده چې له ۱۹۷۴ز کال را وروسته ورته په پاریس کې د یونسکو په مرکز کې یو پُست ورکړل سو او تر ۱۹۸۴ز کال پورې په همدې کار پاتې سو. د سردار عنایت الله له لور مېـرمن رقیې عنایت سراج سره ئـې وادۀ کړی دئ او ځلور بچیان لري. په ۱۹۸۵ز کال کې ئـې له یونسکو ښځه تقاعد واخیست او په پاریس کې ژوند کوي.

[1] - chef de cabinet


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## فرحت اعتمادي، سردار پاینده محمد

د سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله زوی په ۱۸۹۲ز کال کي زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـي کړي دي. په حکومت کي ئـي په بېلابېلو پُستونو کي کار کړی دئ. د لند وخت لپاره د امان افغان محرر. شاعر. موسيقي پوه. او د يو شمېر کتابونو مؤلف.

## مولوي عبدالله عيني

په ۱۸۸۲ز کال کي په کندهار کي زېږېدلی دئ. زده کړې ئـي په هرات کي کړي دي. د ځوانی په پېل کي په هرات کي په يوۀ مهم کاروبار باندي ګومارل سوی وو. شاعر.

## غلام غوث فغان : وګورئ : غوث فغان

## محمد امين فهيمي

د محمد „ثمن" [2] زوی په ۱۹۱۸ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۷ز کال کي د حبيبيي له ښوونځي څخه او په ۱۹۴۰ز کال کي له حربي ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کي ئـي طباعتي چارې په لندن کي زده کړې. تر ۱۹۷۲ز کال پوري د پوځي مطبعي ددفتر مشر. په ۱۹۷۳ز کال کي د ډګروال په رتبې تقاعد سو.

## نور بيا

### الحاج ملا فيض محمد

د محمد سعيد زوی چي هزاره دئ په ۱۸۶۱ز کال کي زېږېدلی دئ. لومړی...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

[2] -Saman


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ